# مسیر

ورځپاڼه

نوې لید، نوې مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۰مه | ۴۹۹یمه گڼه


## هېواد


۴ مخ

### لبنان

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه دی. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



### کرنې وزارت: په هلمند کې د خُرما سوداګریز بڼونه جوړېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت ویلي چې په هلمند کې د خُرما سوداګریزو بڼونو د جوړولو طرحه منظور شوې او په ۱۳۹۹ یم مالي کال کې به پلې شي. په ورته وخت کې د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي چې د دې طرحې پر اساس، په ۱۳۹۹ یم مالي کال کې په دغه ولایت کې د خُرما ۲۵ جریبه سوداګریز بڼونه او کلیکسیون جوړېږي.

هغه زیاته کړې چې دغه بڼونه په هلمند کې د خُرما بڼونو د جوړولو د ترویج او پراختیا په پار جوړېږي.

په ورته وخت کې کرنې وزارت ویلي چې د دغه وزارت له پروګرامونو څخه یو هم د خُرما د ونو پالل، روزل او بڼوالو ته پېژندل دي. د یاد وزارت د چارواکو په خبره، په ځینو ولایتونو کې په ازمایښتي ډول د خُرما بڼونه جوړ شوي چې ښه وده یې هم کړې ده. د یادونې ده چې هلمند، فراه، کندهار، لغمان او ننګرهار د خُرما پالنې لپاره مناسب اقلیم لري.

# ارګ یوازې پر اوربند ټینګار کوي؛

## حامد کرزی: حکومت دې د اوربند په پلمه سولې ته خنډونه نه جوړوي



۳

سوله، شرطونه، معقولیت او مخالفت

۲ مخ

د امریکا او ایران تر منځ د کړکېچ د دوام پنځه لاملونه

۲ مخ

د پېریو دوامداره او تلپاتې اړیکې

۵ مخ

### مشرانو جرګه: امریکا د افغان سولې د ټینګښت لپاره اراده نه لري

د امریکا او طالبانو تر منځ په دوحه کې له روانو مذاکراتو سره هممهاله د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کول او له ایران سره د سیمې په کچه د شخړو دوام، هغه څه دي چې د افغان سولې په تړاو یې د امریکا پر صداقت شکونه ډېر کړي دي. د مشرانو جرګې غړو د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې روانو مذاکراتو ته په اشارې ویلي، چې متحده ایالتونه د افغان سولې په برخه کې صادق نه دي او په خپله امریکا د روانو مذاکراتو پر وړاندې خنډونه جوړوي.

سناتورانو ویلي چې حساس پړاو ته د سولې مذاکراتو له رسېدو سره همهاله، امریکا د افغانستان او سیمې په کچه د ستونزو رامنځ ته کولو لپاره هڅې کوي. د مشرانو جرګې دویم مرستیال اصف صدیقي ویلي: «امریکا نه غواړي چې په افغانستان کې دایمي سوله راشي او دلته مو‌ړ یو باثباته نظام ولرو».

په ورته وخت کې د دې جرګې یوه بل غړي عبدالوهاب عرفان ویلي: «امریکا د افغانستان په مسایلو کې رښتینې نه ده، دوی تل خپل پروګرامونه د سیمې وضعیت ته په کتو جوړوي».

مشرانو جرګې د افغان حکومت له لوري د سولې مذاکراتو په لړ کې پر اوربند ټینګار له سولې سره د ښکاره مخالفت په مانا بللی او زیاته کړې یې ده چې دا ډول شرطونه نه شي کولی چې د سولې مذاکراتو لپاره ګټور تمام شي. سناتورانو دغه راز زیاته کړې، تر هغو چې د امریکا او طالبانو تر منځ روان مذاکرات نتیجه ورنه کړي، طالبان به عمومي اوربند ته زړه ښه نه کړي.

### شکایتونو کمیسیون: تر اوسه مو د استیناف غوښتنې ۴۷۰۰ قضیې ثبت کړې دي



۵ مخ

### اوچا: در سال ۲۰۱۹ میلادی حدود ۴۳۷ هزار تن مجبور به ترک خانه‌های شان شده‌اند



© Reuters

اداره هماهنگی امور بشری سازمان ملل متحد یا اوچا در افغانستان می‌گوید که بی‌جا شدن مردم از مناطق اصلی‌شان در نتیجه منازعات و حوادث طبیعی در افغانستان ادامه دارد.

بر اساس اعلامیه این اداره، در سال ۲۰۱۹ میلادی حدود ۴۳۷ هزار تن در اثر منازعات مسلحانه مجبور به ترک خانه‌های شان شده‌اند.

این در حالی است که به گفته این اداره، جنگ و فقر نمی‌گذارد که بی جا شده گان دوباره به مناطق اصلی‌شان باز گردند.

به گفته اداره هماهنگی امور بشری سازمان ملل متحد، در سال‌های ۲۰۱۸ و ۲۰۱۹ میلادی از جملهٔ ۲۴۵ هزار بی‌جا شده در شرق افغانستان، ۸۴ هزار تن آن‌ها در نتیجهٔ خشک سالی بی‌جا شده اند که تا هنوز هم به محلات اصلی‌شان بر نگشته اند.

ادارهٔ هماهنگی امور بشری سازمان ملل متحد در افغانستان می‌گوید، بر اساس بررسی سال ۲۰۱۹ میلادی، الی پایان امسال حدود یک میلیون افغان که از محلی به محلی در حرکت اند، به مساعدت‌های بشری نیاز خواهند داشت.

قابل یاد آوریست که بر اساس معلومات پس از جنگ حوادث طبیعی بزرگترین علت بی جا شدن مردم از مناطق اصلی‌شان در افغانستان می باشد.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریځ

### سوله، شرطونه، معقولیت او مخالفت

ارگ لا هم د سولې له خبرو سره د مخالفت په جبهه کې دی. د محمد اشرف غني دویم مرستیال سرور دانش پرون ویلي چې «د تاوتریخوالي کمول» مبهمه طرحه او له واقعیت څخه تېښته ده. هغه ویلي چې که امریکا له طالبانو سره په دې ډول هوکړه لاسلیک هم کړي، دا چاره به له اصلي اړخ (افغانانو) سره هېڅ ستونزه هم حل نه کړي. هغه یو ځل بیا د افغان دولت پر محوریت خبرې، اوربند او جمهوریت د سولې لپاره شرطونه یاد کړي او له دې پرته یې د جگړې د دوام ویلي دي. له دې سره سم پرون ارگ ته هغه سیاستوال ور غوښتل شوي، چې له ارگ سره د سولې په مخالفه جبهه کې ملگري کوي.

د سولې له روانو خبرو سره د ارگ مخالفت اوسنی نه دی، خو اوس له دې امله د حیرانۍ وړ دی چې ښکاري، په دې دریځ کې یې نه ولس ملاتړ کوي او نه هم د حکومت پیاوړي متحدین. که چارواکي په دې چاره کې پر هند او ځینو نورو هېوادونو تکیه کوي، ښايي دا تکیه یې ستونزه حل نه کړي. د سولې په مخالفت کې د حکومتي مشرانو هڅې دا حکومت لا زیات کمزوری کوي او له ولسي ملاتړه بې برخې شوی دا حکومت به خپله ستره تکیه (امریکا) هم له لاسه ورکړي.

د سولې لپاره د حکومت شرطونه معقول نه دي. لومړی دوی د اوربند خبره کوي. که څوک د جگړې او سولې په اړه لږ هم معلومات ولري، پر دې پوهېږي چې د خبرو په پای کې اوربند وي، نه له خبرو وړاندې. تر اوسه چې د حکومت او طالبانو خبرې پیل شوې نه دي، نو د اوربند غوښتنه که څه هم سمه غوښتنه ده، خو بې وخته ده. په نړۍ کې چې څومره د سولې تجربې دي، هېڅ ځای داسې نه دي شوي چې لومړی اوربند وشي او بیا سوله، نو ځکه حکومت یوه بې ځایه غوښتنه کوي. د افغان حکومت په مشرۍ، مالکیت او محوریت خبرې د ارگ بله غوښتنه ده چې دا هم معقوله نه ښکاري. دا حکومت نه هغه سیاسي مشروعیت لري او نه هم هغه حقوقي مشروعیت چې دا ډول غوښتنه دې وکړي. وروستیو ټاکنو وښوده چې واکمن ټیم یوازې د نهو لکو افغانانو رایه لري، چې په هغو کې یې هم یوه برخه جعل او درغلي ده. نو یو حکومت چې په څو دېرش میلیوني نفوس کې دومره کم ملاتړي ولري، څنگه دومره ستره غوښتنه کولی شي!؟ له دې امله دا هم یوه بې ځایه غوښتنه ده چې د سولې پر وړاندې خنډ جوړوي. د جمهوریت، اساسي قانون او تېرو لاسته راوړنو منل او دا د سرو کرښو په توگه وړاندې کول د حکومت بل شرط دی. لومړی خو اوسنیو واکمنو خپله د جمهوریت او اساسي قانون پر ستوني پل ایښی دی، نو له نورو یې څنگه درناوی او منل غواړي؟ که طالبان اساسي قانون او په دې ډول جمهوریت ومني، نو بیا یې اتلس کاله ولې جگړه کوله!؟ پر اساسي قانون او نظام باید خبرې وشي او دا باید سرې کرښې نه وي. هغه نظام چې پر اسلامي او افغاني ارزښتونو ولاړ وي او د خلکو ملاتړ له ځان سره ولري، معقول او سم نظام دی. په دې اړه باید خبرې وشي او وروستی پرېکړه د خلکو ټولپوښتنې ته پرېښودل شي. حکومت باید دا چاره هم د شرط په توگه یاده نه کړي.

په ټوله کې د سولې لپاره د حکومت شرطونه په واقعیت کې د سولې د خبرو پر وړاندې خنډ جوړول دي او دا چاره ولس ته د زغم وړ نه ده. حکومت باید خپل دریځ بدل کړي، د سولې خبرو ته داخل شي او هڅه وکړي چې افغاني گټې خوندي کړي. له دې پرته سوله راځي او اوسني چارواکي به بیا د ارگ پر ځای په هغو هېوادونو کې وي، چې د هغو پاسپورټونه یې په جیبونو کې دي.

# د امریکا او ایران تر منځ د کړکېچ د دوام پنځه لاملونه

لیکنه: بي بي سي پښتو

**د ایران او امریکا تر منځ کړکېچ**

له نیکمرغه د امریکا له خوا د ایراني جنرال قاسم سلیماني پر وژنې رامنځ ته شوي شخړه د امریکا او ایران تر منځ پر بشپړه جگړه وانوښته .

له دې ښکاري چې تړینگلتیا یو څه راکمه شوې، خو هغه اساسي لاملونه چې له مخې یې دواړو هېوادونو د جگړې پر پوله ولاړ نه دي، بدل شوي.

دلته درته څو هغه لاملونه ذکر کوو چې ښيي شخړه لا پای ته نه ده رسېدلې.

**د ترینگلتیا کمېدل لنډمهالي دي**

هغه څه چې ځینې شنونکي ورته د ترینگلتیا کم والی وایي، داسې څه نشته. ایراني مشرانو چې د سلیماني وژنې هک حیران کړي وو، هغه څه یې وکړل چې دوی کولی شوی او هغه د توغیدیو برید و. ایران وغوښتل چې دې وژنې ته د امریکایي موخو په نښه کولو سره ځواب ووايي او دا غبرگون باید په ډاگه وي. نو ځکه یې توغندي له خپلې خاورې وتوغول.

خو د ایران د کړنو پر وړاندې ځینې عملي او سیاسي محدودیتونه وو، ایران وغوښتل چې د توازن رامنځ ته کولو لپاره یو څه په چټکۍ وکړي، خو د بشپړې جگړې پیلولو هڅه یې ونه کړه. دا څه چې ایران پیل کړي، لکه چې ډېرو ایراني ویاندویانو هم وویل، پای ته نه دي رسېدلي.

دغه راز ویل شوي چې د ایران له خوا د اوکرایني الوتکې د غورځولو مسوولیت منل هم د ایران له خوا د ترینگلتیا کمولو یوه هڅه وه، خو دا اټکل سم نه دی.

د ایران نورمال/ نارمل غبرگون دا و چې په دې پېښه کې لاس لرل یې رد کړل. خو کله چې امریکا وویل چې استخباراتي سرچینې یې ښيي چې داسې نه ده، کله چې اوکرایني څېړونکو د الوتکې په پاتې شونو کې د توغندي ټوټې وموندې او کله چې خپلواکو څېړونکو د الوتکې د نسکورېدو د ویډیو د کره والي تصدیق وکړ، نو د ایران لپاره له خپلې خبرې له شاکېدلو پرته بله لار نه وه.

کله چې ایران پر بلډوزرونو د الوتکې پاتې شونې ټول کړل، نو دا جوته شوه چې ایران د پېښې په اصلي بڼه خبر و. که د کومې ناڅاپي پېښې شواهد وای، نو ایراني چارواکو به د الوتکې پاتې شونې پر خپل ځای پرېښې وای.

د ایران له خوا د مسوولیت منل تر ډېره په کورنیو ستونزو پورې تړاو درلود. یوازې څو میاشتې وړاندې د فساد او د مخ په ځوړ اقتصادي وضعیت له امله لاریونونه شوي دي. ومو کتل چې څومره ژر اعتراضونه له سره پیل شول. نو دا په دې مانا چې د مسوولیت منلو هدف په کور د ننه د زیانونو کمول وو، نه له امریکا سره د ترینگلتیا له منځه وړل.

**د امریکا کړنلاره نه بدلېږي**

پوښتنه دا ده چې ولې امریکا سلیماني وواژه او په یمن کې یې د یوه بل ایراني جنرال د وژلو هڅه وکړه؟ امریکا وویل چې ښايي د حقوقي دلایلو له مخې وي، له دې وژنې یې هدف د امریکایي گټو پر ضد د کېدونکو بریدونو مخنیوی و.

دې دلیل ډېری شنونکي او آن په واشنگټن کې پر ولسمشر ټرمپ نیوکه کوونکي قانع نه کړل. امکان دا دی چې برید د دې لپاره یوه هڅه وه چې د ځان ژغورلو لپاره یوه سره کرښه معلومه کړي.

په لنډمهال کې ښايي دا گټه ورسوي ،نو ځکه ایران ته پکار دي چې خپلو راتلونکو گامونو ته ډېر دقت وکړي.

خو په ورته وخت کې چې ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایران پر ضد ویجاړوونکی گواښ کوي، له منځني ختیځه وتلو ته هم اشاره کوي او دې ستونزې ته د پردیو د ستونزې په سترگه گوري. خو دا ډول دریځ حتماً د زیان د مخنیوي لپاره هر ډول پیغام کمزوری کوي.

د امریکا متحده ایالتونه به د ایران د اقتصاد له پښو غورځولو ته دوام ورکړي، خو په تېر کې دا ډول فشارونو ایران نه دی اړ کړی چې د خبرو میز ته کینې او تسلیم شي. برعکس یې دا جرئت پیدا کړی چې د برید ځواب ووایي او له خپل لوري اعظمي فشار راولي.

امریکا هڅه کوي پر تهران فشار دوه برابره کړي او هغو امکاناتو sources کې د پام وړ کموالی راولي، چې ایران په سیمه کې ځای پر ځای کړي دي، خو دا امکان نه برېښي چې دواړې موخې دې په یوه وخت کې تر لاسه کړي.

**د ایران ستراتیژیکې موخې پر خپل ځای دي**

ښايي د ایران اقتصاد د بندیزونو له امله له ستونزو سره مخ وي او ډېری ایرانیان له دې حالت په تنگ وي، خو دا باید هېر نه کړو چې د ایران رژیم یو انقلابي رژیم دی.

دا رژیم په یو ناڅاپي توگه له واکه لاس نه اخلي، که د انقلاب ساتونکي ځواک په څېر ډلې چې ډېر ځواک او نفوذ لري، په کور د ننه د هر ډول اعتراض پر وړاندې یې غبرگون ځپل او د واشنگټن له خوا د هر ډول فشار پر وړاندې په شدت مبارزه ده او دا به دوام وکړي.

د ایران ستراتیژیک هدف له سیمې د امریکا د متحده ایالتونو حضور پای ته رسول دي، لږ تر لږه له عراقه د امریکایانو ویستل او ښايي دې موخې ته د سلیماني له وژل کېدو وروسته ژر ورسیږي.

لږ تر لږه ایراني مشران فکر کوي چې کړنلارې یې د پام وړ بریالۍ دي، دوی د سوریې د ولسمشر بشارالاسد رژیم وژغوره، له اسراییلو سره یې نوې جبهه پرانیسته او په عراق کې ډېر نفوذ لري.

د ولسمشر ټرمپ په کړنلارو کې د تناقض له امله په سیمه کې د امریکا د متحده ایالتونو ملگري مخ پر زیاتېدونکې توگه فکر کوي، چې یوازې شوي دي، سعودیانو په ټیټه کچه له ایران سره خبرې پیل کړې او ترکیې نوې لاره خپله کړې او له روسیې سره یې د اړیکو نوی باب پرانیستی. داسې ښکاري چې اسراییل په سیمه کې یوازینی هغه هېواد دی چې فکر کوي د سلیماني وژنه په سیمه کې د ټرمپ نوې ښکېلتیا ده؛ خو د دوی هیلې ښايي پر ناهیلۍ بدلې شي.

ښايي په ایران کې اپوزیسیون او ناوړه اقتصادي حالت انقلاب ساتونکی ځواک وهڅوي، چې د وخت په تېرېدو د امریکا پر متحده ایالتونو فشار زیات کړي، پر امریکا دوه ویجاړوونکي بریدونه شوي او د غچ لپاره باید ځیرک اوسي.

**د عراق په دریځ کې تناقض**

اوس تر بل هر وخت له عراقه د امریکایي ځواکونو وتل ډېر جوت او په وضاحت ښکاري، بل خوا د عراق منځمهالی حکومت د اعتراضونو له امله له کړکېچ سره مخ دی او ډېر عراقیان هم د امریکا او هم د ایران له حضوره په تنگ دي.

**ایران کې امریکا ضد احتجاجونه**

د عراق د پارلمان له خوا د امریکایي ځواکونو پرېکړه چې الزامي بڼه نه لري، دا مسئله په جدیت سره په سیاسي اجنډا کې مطرح کړې ده، دا پرېکړه په دې مانا نه ده چې امریکایي ځواکونه به سبا له عراقه ووځي، خو په عراق کې یې پاتې کېدل هم سیاسي مهارت غواړي.

خو د دې سیاسي مهارت پر ځای ولسمشر ټرمپ گواښ کړی که امریکایي ځواکونه اړکړل شي، چې له عراقه ووځي، نو د امریکا په بانکونو کې به د عراق شتمنۍ کنگل کړي.

په عراق کې د امریکا متحده ایالتونو ښکېلتیا او رول یوه مهمه مسئله ده. کله چې ائتلافي ځواکونو د اسلامي دولت ډلې پر ضد د عملیاتو لپاره فعالیت پیل کړ، نو داسې تمه کېده چې هلته یې حضور د اوږدې مودې لپاره دی، آن کله چې اسلامي دولت ډلې ماتې وخوړه، نو بیا اټکل کېده چې امریکایي ځواکونه به په عراق کې د څو کلونو لپاره پاتې شي. که دا ځواکونه ووځي، نو د دغې ډلې له خوا د هر ډول بغاوت پر وړاندې مقابله کول به ډېر گران وي. خو دا چاره به د سوریې په ختیځ کې د امریکایي ځواکونو پاتې کېدل هم تر پوښتنې لاندې راولي؛ ځکه ډېره تمه دا ده چې په سوریه کې مېشت دا ځواکونه به په عراق کې د مېشتو نورو امریکایي ځواکونو له خوا تمویلیږي. له عراقه د امریکایي ځواکونو په اړه خبرې یوازې پیل دي او که دا ځواکونه له عراقه ووځي، نو بیا ایران گټونکی دی.

**د اټومي پروگرام هوکړه له گواښ سره مخ ده**

د دې روانې شخړې ریښې د ۲۰۱۸ ز کال تر مې میاشتې غځېدلې او دا هغه مهال و چې د ولسمشر ټرمپ اداره د ایران د اټومي پروگرام پر سر له شوې هوکړې په شا شوه.

له همغه راهیسې امریکا د ایران پر اقتصاد اعظمي فشار راوړی او ایران بیا له خپل اړخه پر امریکا د سیمه ییز فشار برید ته دوام ورکړی او په کرار کرار یې له هغو محدودیتونو ځان وژغوره، چې هوکړې رامنځ ته کړي وو.

که دا هوکړه له منځه ولاړه نه شي، نو د ژوندي پاتې کېدو یوازېنی دلیل به یې دا وي چې ولسمشر ټرمپ یې له منځه تلل غواړي. خو که کوم بدلون رانه غی، نو دا بیا د پای پیل دی.

خو دا هوکړه مهمه ده، له دې هوکړې وړاندې د جگړې رامنځ ته کېدلو لوی خطر و، دا امکان و چې اسراییل او یا امریکا او اسراییل دواړه په گډه د ایران پر اټومي بنسټونو برید وکړي.

ایران به هڅه وکړي چې د امکان تر حده د هوکړې نور لاسلیک کوونکي پر خپل دریځ پاتې شي، خو دا یو ناوړه کړکېچ دی. ښکاري داسې چې د اروپایانو له هڅو سره سره پر تهران د اقتصادي فشار کمولو لپاره بله لار نشته. امکان لري چې په پایله کې دا هوکړه له منځه ولاړه شي او په عین وخت کې ایران په چټکۍ د اټومي بم تر لاسه کولو ته نږدې شي.

د دې هوکړې برخلیک چې هر څه وي، وي به؛ خو د ولسمشر ټرمپ کړنلارې امریکا یو ځل بیا په منځني ختیځ کې په داسې حال کې ښکېله کړه، چې د امریکا د ملي امنیت کړنلارې دا هېواد له منځني ختیځه لرې ساتل غواړي.


## د بښنې نړیوال سازمان: لا هم په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو وضعیت د اندېښنې وړ دی

د بښنې نړیوال سازمان په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو په اړه یوه پېشنهادي ټولگه افغان حکومت ته وړاندې کړې ده.

دغه سازمان ویلي چې لا هم په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو وضعیت د اندېښنې وړ دی.

د یاد سازمان په باور، حکومت د دولتي مسوولینو، زورواکو او وسله والو مخالفینو له خوا د بشري حقونو د مدافعینو پر وړاندې گواښونو، تاوتریخوالي او د دوی د وژنو پېښو ته جدي پام نه دی کړی.

د بښنې نړیوال سازمان مرستیال عمر ورج تېره ورځ حکومت ته د دغه پېشنهادي ټولگې د سپارلو په مناسبت جوړې شوې غونډې ته ویلي: «تر اوسه د بشري حقونو د مدافعینو د قتل قضیو او یا هم تاوتریخوالي پېښو ته د حکومت له خوا قانوني برخورد نه دی شوی، هېڅ ډول ملاتړ یې نه دی شوی، اوس موږ له حکومت څخه په دې برخه کې د جدي او قوي گامونو د پورته کېدو غوښتنه کوو ».




دغه سازمان په خپله څېړنه کې موندلې چې د بشري حقونو له مدافعینو سره تاوتریخوالی ډېر د حکومت د وسله والو مخالفینو، دولتي چارواکو او زورواکو له خوا شوی چې هېڅ ډول رسېدنه ورته نه ده شوې.

په ورته وخت کې د افغان ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش چې په دې غونډه کې یې گډون کړی و، ویلي چې اوس هم په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو پر وړاندې جدي ستونزې شته، خو زیاته کړې یې ده چې د مخنیوي لپاره به یې کوټلي گامونه پورته شي.

هغه ویلي: «د بشري حقونو د مدافعینو خوندیتوب د حکومت مسوولیت دی، د بشري حقونو او ښځو فعالینو ته سپکاوی، دا هېواد له ستونزو سره مخ کوي، زموږ امنیتي او قضایي اداري باید په دې برخه کې لازم تدابیر ولري، ژمنه کوو چې د دغو پېښو د مخنیوي او ستراتېژۍ د تطبیق لپاره به لازم اقدامات وکړو».

د یادونې ده چې د گواښونو پېژندل، ستونزې، د بشري حقونو مدافعینو ته د گواښونو محرمیت، د گواښونو پېښو او د بشري حقونو د مدافعانو د وژنو قضیو ته په خپل وخت رسېدنه، هغه سپارښتنې دي چې د بښنې نړیوال سازمان له خوا حکومت ته شوې دي.



# د پېړيو دوامداره او تلپاتې اړيکې

لیکنه: نقیب الله مل

پرون د افغانستان او چين ولسي جمهوريت د ډيپلوماټيکو اړيکو ٦٥مه کليزه وه، دا ورځ ٦٥کلونه وړاندې د ۱۹۵۵ ز کال د جنوري په ۲۰مه نېټه د دواړو هيوادونو د اړيکو په تاريخ کې د اړيکو د نوي پړاو له پيل سره برابره وه. افغانستان او چين په اسيا کې د دوو لرغونو هيوادونو په توگه د اړيکو ځلانده مخينې پسمنظر لري، د گاونډيتوب او هم د ښو دوستانه اړيکو په مزي سره پېيلي پاتې شوي دي. د دواړو هيوادونو د دوستانه اړيکو په لړ کې ډېر د پام وړ تاريخي کيسې تېرې شوې او شته. زه يې د يو داسې تاريخي سند يادونه دلته کوم، چې په اتلسمه پېړۍ کې چين ته د يو افغان ډيپلوماټيک پلاوي د سفر شاهد او گواه دي او دغه مهم تاريخي سند د چين د تايوان په موزيم کې موجود دی.

احمد شاه ابدالي چې له ۱۷۴۷خخه تر ۱۷۷۲ ز کالونو پورې نه يوازې د افغانستان پاچا پاتې شوی؛ بلکې د معاصر افغانستان جوړوونکی او بنسټ اېښودونکی بلل کيږي، د ټول افغان ملت په زړونو کې له لوړ درنښت څخه برخمن دی او د بابا په وياړمن لقب باندې يادېږي. هغه وړتيا او ځيرکتيا چې احمدشاه بابا درلوده، د نوموړي ۲۵کلنې واکمنۍ په موده کې موږ ته د هغه په تر سره کړو سترو کارنامو کې له ورايه څرگندېږي. په سيمه کې د افغان ځواکمن او غښتلي دولت جوړول او رامنځ ته کول څه اسانه او ساده کار نه و.

د خپلې سترې او پراخې امپراتورۍ په موده کې يې تل له نورو او په تېره بيا له گاونډيو هيوادونو سره د ښو او دوستانه اړيکو پاللو او د متقابل درناوي رويه ساتله او پرمخ بېوله. په دې اړه ډېر معلومات د تاريخ په پاڼو کې ثبت او خوندي دي. په همدې سلسله کې يې زه له چين سره د اړيکو يو ريکارډ او مهم تاريخي سند يادونې ته دلته د بېلگې په توگه تم کېږم.

د چين د تايوان په موزيم کې د څلورو ښکلو اسانو انځورونه په يوه ښيښه‌يي الماری کې اېښودل شوي، چې تر ډېره د ليدونکو پاملرنه جلبوي. په ۱۷٦۲ ز کال کې د ستر نوميالي افغان ټولواک احمد شاه ابدالي له خوا چين ته د سفر لپاره يو څو کسيز سفارتي استازی وټاکل شو او له کندهار څخه يې د چين پر لوري حرکت او اوږده سترې مزلونه وکړل. بالاخره پلاوی تر يو کلن سفر وروسته سهي سلامت په ۱۷٦۳ ز کال کې د چين د چينگ سلسلې د امپراتورۍ پايتخت اوسني بيجېنگ ته ورسېد او د چين د هغه وخت امپراتور چيان لونگ ته يې د احمد شاه بابا له خوا د عالي نسل د څلورو ښکلو اسانو ډالۍ او پيغام وړاندې کړ.

هغه چې د دغو ښکلو نايابو اسانو انځورونه د چين د امپراتورۍ په دربار کې د مېشت ايټالوي نامتو ماهر انځورگر جيوسيپ کاستينگليون په ډېر دقت او لوړ مهارت سره جوړ او انځور کړي دي، د دې انځورونو اصلي نسخه د چين د تايوان په موزيم کې ساتل کيږي.

دا تاريخي سند د افغانستان او چين تر منځ د هغه وخت دوو اړخيزو لرغونو دوستانه اړيکو په ښودنه او څرگندونه کې تر ډېره مهم، د پاملرنې او يادونې وړ دي.

دغه مشهور ايټالوي انځورگر جوسيپ کاستگليون د چين امپراتورۍ په دربار کې د عمر تر پايه پورې پنځوس کلونه پاتې شوی دی او د هغه وخت مهم ملاقاتونه او صحنې يې په لوړ مهارت سره انځور کړې دي. په ټوله کې د چين د هغه وخت له دريو امپراتورانو سره په څنگ کې پاتې او په دربار کې ژوند يې کړی دی.

د افغانستان او چين د اړيکو په برخه کې نه يوازې د دغو څلورو اسانو انځورونه مهم او د ستر ارزښت لرونکي دي؛ بلکې د نوموړي افغان پلاوي د غړو څېرې، لباسونه چې د دربار يو بل چيني انځورگر له خوا انځور شوي دي، هم تر ډېره په زړه پورې او د يادونې وړ دي.

موږ د افغانستان او چين تر منځ د سفارتي راشه درشې په لړ کې له احمد شاه بابا وروسته ثبت شوې څو مهمې د يادونې وړ نورې بېلگې هم لرو، لکه په ۱۸٦۵ ز کال کې امير شيرعلي خان هم خپل ځانگړی استازی او اته اسان د چين امپراتور ته لېږلي دي، په ۱۹۱۱ ز کال کې په چين کې د جمهوريت په راتگ او د امپراتورۍ لړۍ په پای ته رسېدو په ۱۹۲۲ ز کال کې د امان الله خان او د نوي خپلواک افغانستان پر مهال د دواړو هيوادونو تر منځ د استازو او سفارتي تگ راتگ اړيکې ټينگې شوې دي.

په ۱۹۵۵ ز کال کې د چين ولسي جمهوريت د تأسيس په شپږم کال د جنورۍ په ۱۳مه نېټه د افغانستان د شاهي دولت د بهرنيو چارو وزير محمد نعيم او د چين صدراعظم چو وين لای د اندونيزيا په باندونگ ښار کې د ناپېيلو هيوادونو د مشرانو د غونډې په څنډه کې د رسمي، سياسي او ډيپلوماټيکو اړيکو د ټينگښت اعلاميه خپره کړه او يوه اونۍ وروسته يانې د جنوري په ۲۰مه نېټه د دواړو هيوادونو تر منځ رسمي، سياسي او ډيپلوماټيکې اړيکې تأسيس او د يو بل هيوادونو په پلازمېنو کې دايمي سفارتونه جوړ او پرانيستل شول، چې پرون يې موږ د ٦٥مې کليزې يادونه او نمانځنه وکړه.

# ارگ يوازې پر اوربند ټينگار کوي؛

## حامد کرزی: حکومت دې د اوربند په پلمه سولې ته خنډونه نه جوړوي



پخوانی ولسمشر حامد کرزی وايي، حکومت دې دا پلمه نه کوي چې گواکې طالبان اوربند نه کوي، نو دوی هم د سولې مذاکرات نه کوي. پخواني ولسمشر حامد کرزي تازه له بي بي سي سره مرکه کړې ده. نوموړي په دې مرکه کې ويلي چې په افغانستان کې د جگړې پای ته رسېدو ته اړتيا ده او افغان حکومت ته پکار ده چې د پلمو پر ځای د بين الافغاني خبرو او سولې لپاره هڅې وکړي. په ورته وخت کې د ولسمشر دويم مرستيال بيا وايي، چې که طالبان اوربند نه کوي، نو له دې ډلې سره د امريکا مذاکرات بې گټې دي.

د سولې له تودو خبرونو او منډو ترړو سره هممهاله پخوانی ولسمشر حامد کرزی حکومت تورنوي، چې د سولې د خبرو لپاره خنډونه جوړوي او يا په يوه توگه پلمې کوي چې دغه خبرې وځنډېږي. د پخواني ولسمشر حامد کرزي په خبره، افغان حکومت دا شرط ږدي چې طالبان دې د سولې او بين الافغاني مذاکراتو لپاره تر هر څه وړاندې اوربند وکړي، خو پخوانی ولسمشر وايي، هر هغه څه چې موږ سولې ته نږدې کوي او دلته روانه جگړه د تل لپاره ختموي، د افغانستان لپاره مهم دي. د ده په خبره، که د اوربند غوښتنه د بين الافغاني خبرو د ځنډ لامل گرځي او يا د دايمي سولې لپاره خنډ رامنځ ته کوي، نو حکومت ته نه ده پکار چې پر دې مسئله ټينگار وکړي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي له بي بي سي سره په خبرو کې ويلي دي، حکومت دې د هر هغه اقدام لپاره هڅه وکړي چې افغانان سولې ته نږدې کوي. کرزی وايي: «هر هغه اقدام چې د خبرو اترو او د مذاکراتو د پيلېدو چټکتيا په کې وي، هڅونه په کې وي او د سولې د راتلو اميد په کې وي او ژر تر ژره کيږي، هغه دې تر سره کړي».

پخواني ولسمشر حامد کرزي دا وړانديز هم کړی چې افغان حکومت دا ټکي بايد په پام کې ونيسي، چې ارومرو دې پر اوربند ټينگار وشي او سوله وغواړي. د نوموړي په خبره: «بالاخره بايد د مذاکراتو په پايله کې دا کار (اوربند) وشي، خو دا بايد د مذاکراتو د نه پيلېدو پلمه نه وي».

پخواني ولسمشر دغه راز ويلي چې په دې شديده جگړه کې د تشدد او تاوتريخوالي کمېدل هم لوی گام دی او حکومت بايد دې ته متوجه وي چې د سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت بايد ضايع نه شي. ښاغلي کرزي ويلي: «پر ولسمشر غني مو غږ دی، چې ژر تر ژره دې مذاکرات پيل کړي. دا واضح خبره ده چې د بين الافغاني خبرو په اوږدو کې به ارو مرو پر اوربند بحث کېږي، ارو مرو به پر دې ټينگار کېږي چې د افغانستان جگړه ختمه کړل شي. نو د سولې لپاره دې خنډونه نه جوړېږي».

پخوانی ولسمشر حامد کرزی داسې مهال يوازې د تاوتريخوالي کمول هم د سولې لپاره مهم بولي، چې تر دې وړاندې ارگ پر اوربند ټينگار کړی دی. ارگ وايي، يوازې اوربند دوی ته د منلو وړ دی او د تاوتريخوالي کمول د سولې له پروسې سره همکاري نه شي کولی.

له دې سره جوخت د ولسمشر دويم مرستيال هم ويلي چې که د امريکا او طالبانو تر منځ هوکړه کې اوربند شامل نه وي، نو دا د افغانستان لپاره هېڅ گټه نه کوي. نوموړي د تاوتريخوالي کمول يوه مبهمه طرحه وبلله او په خبره يې، دا له واقعيت تېښته ده. نوموړي پرون په کابل کې يوې غونډې ته د خبرو پر مهال ويلي: «طالبان په دې توگه غواړي نړيواله ټولنه او نورې خواوې تېر باسي، دا په واقعيت کې له رښتينې سولې تېښته ده».

له دې سره هممهاله د پاکستان د بهرنيو چارو وزير په قطر کې د دغه هېواد له چارواکو سره د سولې په تړاو خبرې کړې دي او د جنوبي اسيا په چارو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستياله بيا د سولې په تړاو د خبرو لپاره اسلام اباد ته تللې ده.

# ايران: که اروپايي هېوادونه مرسته ونه کړي، د اټومي انرژۍ له نړيوالې ادارې سره به پر همکارۍ غور وکړو



ايران خبرداری ورکړی، که اروپايي قدرتونه همکاري ونه کړي، د اټومي انرژۍ له نړيوالې ادارې سره به پر خپلې همکارۍ له سره غور وکړي.

د ايران د پارلمان رييس علي لاريجاني ويلي، که اروپايي قدرتونه په هر دليل په اټومي تړون کې د لانجې د حل د ميکانېزم پر وړاندې ناوړه چلند خپلوي، تهران به د اټومي انرژۍ له نړيوالې ادارې سره پر خپله همکارۍ په جديت غور وکړي.

نوموړی چې وړاندې له دې د تهران له خوا په اټومي موضوع کې مرکچي هم و، دولتي ټلوېزيون ته ويلي: «هغه څه چې دريو اروپايي هېوادونو جرمني، فرانسې او برېټانيا د ايران د اټومي موضوع په اړه وکړل، د خواشينۍ وړ دي».

دا په داسې حال کې ده چې جرمني، فرانسې او برېټانيا تېره اونۍ اعلان وکړ، چې په اټومي تړون کې يې د لانجې د حل يو ميکانېزم فعال کړی دی. دريو واړو اروپايي هېوادونو ويلي، د دغه ميکانېزم د فعالولو يوه موخه دا ده چې اټومي تړون پر خپل حال پاتې شي.

دغو دريو اروپايي هېوادونو چې د اټومي تړون لاسليکوونکي هم دي، له چين، روسيې او اروپايي ټولنې سره يوځای ويلي چې دغه ميکانېزم به پر ايران د ملگرو ملتونو د بنديزونو سبب شي، خو دوی ويلي چې د ايران د چلند د بدلولو لپاره پر تهران د حد اکثر فشار راوستلو په اړه د واشنگټن په کمپاين کې ملگري نه دي.

دغو هېوادونو ويلي، له ايران سره د اټومي تړون په اړه پر خپل تعهد ټينگار کوي.

په ورته وخت کې د اروپايي ټولنې د بهرنۍ سياست د مشرې وياند ويلي، اروپايي ټولنه هم اټومي تړون ته ځان ژمن گڼي او هڅه کوي چې ايران بېرته د دغه تړون رعايت ته راوگرځوي.

د ايران د پارلمان رييس علي لاريجاني زياته کړې: «خو موږ په ښکاره اعلان کوو، که اروپا په هر دليل د اټومي تړون د ۳۷مې مادې په کارونه کې غيرعادلانه چلند وکړي، هغه وخت به د ايران اسلامي جمهوريت د اټومي انرژۍ له نړيوالې ادارې سره د خپلې همکارۍ په اړه جدي پرېکړه وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا متحده ايالتونو له اټومي تړون څخه د ۲۰۱۸ ز کال په مې مياشت کې د وتلو او پر ايران د سختو بنديزونو د بيالگولو اعلان کړی دی.

له تړون څخه د واشنگټن تر وتو وروسته، ايران له هغو محدوديتونو چې په اټومي تړون کې ورته ټاکل شوي وو، سرغړونې کړې دي.

## د کتــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل

◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




**د حالاتو بدلون**

له نېکه مرغه په کاروبار کې د اخلاقي معاملو لېوالتیا مخ پر زیاتېدو ده. د هیډریک اینډ سټرګلز په نوم د کارموندنې شرکت وایي:((د کاروبار یوه نوې دوره پیل شوې ده. اجراییوي رییسان له یوه امر سره مخ دي. تظاهر او راښکون ختم شوی او ځای یې د اخلاقو، ارزښتونو او موخو په ښه شفافیت نیولی دی.)) زما ملګری بروس ډینګمین د یوې مشورتي ادارې مشر دی. هغه هم دا خبره مني. ما ته یې برښنالیک کړی و چې:((موږ چې په بازار کې څه وینو، ته به یې په خبرېدو خوشاله شې. زموږ مراجعین چې اوس د کار په غوښتنونکو (نوماندانو) کې څه غواړي او لټوي، له دې معلومېږي چې په کاروباري ارزښتونو او ستراتیژیو کې بدلون راغلی دی... . هو، دوی اوس هم داسې کارکوونکي غواړي چې شرکت ته پیسې وګټې، سختې پرېکړې وکړي او ځان له مدیریتي ټیم سره عیار کړي؛ خو اوس د شفافیت په اړه هم یوه ژوره اندېښنه پکې رامنځته شوې. اوس لنډ فکر نه کوي. په ستراتیژیو کې یې اوږدمهاله فکر ته ځای ورکړی دی او اوس ډېر رښتیني او محافظه کارانه اهداف ټاکي.))

په شیکاګو کې د ون بانک د ګومارنې مسئول جیرمي فارمر وایي چې دی او همکاران یې چې بالقوه کارکوونکي لټوي، نو د اخلاقو موضوع ته پکې ډېر زیات پام کوي:((موږ د اخلاقو اړوند پوښتنې او د چلندونو په اړه مرکې کوو.)) (۱۰)

دا ښه خبره ده چې زموږ په کلتور کې د اخلاقي بدلون لېوالتیا لیدل کېږه؛ خو بده یې دا ده چې زیاتره خلک پر دې نه پوهېږي چې بدلون څنګه رامنځته کړي. د دوی حالت د هغو مسافرو غوندې دی چې ما یې یو وخت کیسه د بل چا له خولې اورېدلې وه. وایي په هیواد کې د جګړو پر وخت یوه ډله مسافر په الوتکه کې سپاره وو. په هوا کې به یې دوه ساعته مزل کړی و چې له لاسپیکره یې غږ واورېد:((ستاسو پیلوټ یم، موږ له ځمکې (۳۵۰۰۰) فوټه لوړ الوت کوو او د الوتکې سرعت په دقیقه کې (۷۰۰) کیلومتره دی. زه تاسو ته یو ښه او یو بد خبر لرم. بد خبر دا دی چې لاره مو ورکه کړې او ښه خبر دا دی چې چکر سخت خوند کوي.))

**د بازار ځینې اوسنۍ حللارې**

که بازار ته ځیر شئ، نو وبه ګورئ چې د اخلاقو جګړه یوازې د سمون او شفافیت په غوښتلو او هغو ته په لېوالتیا نه شو ګټلای. تاسو وګورئ چې زموږ په کلتور کې خلک څنګه ستونزو ته څنګه ګوته نیسي... .

**د اخلاقو بهرنۍ لارښوونې**

د سان فرانسیسکو ورځپاڼې د کالم لیکوال جون ریان په حواله، شرکتونه ځینې ادارې د دې لپاره ګوماري چې پرلیکه د اخلاقو ټولګې برابر کړي او سلاکاران د دې لپاره نیسي چې د اخلاقو لوی لارښود کتابونه ورته تولید کړي. د ریان په وینا:((دا کتابونه زیاتره د مالیاتو د کوډ په څېر لوستل کېږي او په ښه ډول چاپېږي.)) دا هېڅ مرسته نه کوي. بده یې لا دا ده چې د دې شرکتونو لېوالتیا دا نه وي چې خپل کاروبار اخلاقي کړي. ریان وایي:(( دا له سزا نه د تښتېدو لپاره کوي. د ایالتي قانون له مخې کوم شرکتونه چې اخلاقي پروګرامونه ولري، نو د سرغړونې په صورت کې لږه جریمه پرې وضع کېږي.)) (۱۱)

**اخلاقي دواپاشي**

بله طریقه دا ده چې د ګیرېدو پر وخت د اخلاقي سرغړوونکو درملنه وشي. د مدیریت سلاکار فرانک جي نوران دا چاره «اخلاقي دوا پاشي » بولي. د دې طریقې ستونزه بیا دا ده چې تر څو چاپېریال نه وي بدل شوی، درملنه چندانې ګټه نه کوي، ځکه که پر کورنې ځاروي دوا وپاشل شي او د اوسېدو ځای یې بدل نه شي، څه وخت وروسته مچان بېرته ورته را ګرځي. که د یوې ادارې چاپېریال (موخې او سیستمونه) داسې وي چې غیراخلاقي چلن پکې هڅول کېږي او ستایل کېږي، نو د یوه کارکوونکي په ښنه کول او رغول حالات نه شي سمولای.

**پر قانون تکیه**

ځینې شرکتونه په خپل چوکاټ کې دننه دا نه شي معلومولای چې څه اخلاقي دي، د دې پر ځای یې د پرېکړو لپاره داسې معیار ټاکلی چې یو څه قانوني دي. د دې پایله اخلاقي افلاس (دیوالیه توب) دی. د ډیل کمپیوټرونو شرکت له رییس کیون رولینز نه په کاروبار کې د اخلاقو د ونډې په اړه پوښتنه وشوه. هغه ورته د روسي لیکوال الکساندر سولژنیتسین خبره وکړه:((ما په داسې ټولنه کې ژوند کړی چې قانون پکې نه و، دا بد وضعیت و؛ خو په کومه ټولنه کې چې د اخلاقي چلن یوازینی معیار قانون وي، نو هغه ټولنه هم همدومره بده ده.)) رولینز زیاته کړه:((سولژنیتسین ویلي، که متحده ایالات یوازې د اخلاقي لوړوالي د قوانینو معیار ته لیواله وي، نو موږ غلط یو. زه فکر کوم د شرکتونو پر اخلاقو دا ښه تبصره وه. د قانون له مخې به دا ښه وي؛ خو موږ پر دې باور یو چې تاسو باید تر قانون د یوه لوړ شي تمه ولرئ، تاسو چې اوس څه کوئ سم دي؟)) (۱۳)

**دوام لري...**

# لبنان

حشمت الله نوري



لبنان د منځني ختیځ او د عربي منځني ختیځ هېوادونو په ډله کې د آسیا په لوېدیځه برخه کې د مدیترانې سمندرګي په ختیځه څنډه کې د شمالي عرض البلدونو د ۳۲- ۳۴ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۳۵- ۳۶ درجو تر منځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۴۰۱۵ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۱۴۲م لوی هېواد دی.

د لبنان شمالي ته سوریه، جنوب ته اسراییل، ختیځ ته سوریه او لوېدیځ ته یې د مدیترانې سمندرګی پروت دی.

دغه هېواد د مدیترانې سمندرګي په خوا کې پروت دی، ځکه مدیترانه‌یي اقلیم لري. په عمومي توګه د دغه هېواد اقلمي فصلونه د لبنان د ځانګړې جغرافیایي موقعیت محصول دي، ځکه چې لبنان د دوو بېلابېلو اقلیمي سیمو تر منځ موقعیت لري. په جنوب کې د عربستان د ټاپووزمې او افریقا وچ ډاګونه چې تاوده او وچ دوبني بادونه یې مخ په شمال الوزي او د هوا لندبل کموي او دویم د لبنان په شمال کې هغه اقلیمي سیمه پرته ده، چې د لوېدیځو بادونو تر اغېز لاندې ده. دا بادونه ژمی مهال جنوب- ختیځ لوري ته لګېږي او هوا لندوي.

په عمومي توګه د لبنان ژمی معتدل او لږ سوړ دی، چې په جکو غرنیو سیمو کې یې پربمانه واوره اوري. د دغه هېواد دوبی وچ او تود دی. د لبنان د کلني اورښت اندازه ښه زیاته ده.

دغه هېواد د آسیا او نړۍ له کوچنیو هېوادونو څخه دی، چې د مدیترانې د سمندرګي په ختیځه خوا کې له شمال- ختیځ څخه تر جنوب- لوېدیځ پورې ۳۱۲ کیلومتره ډېر اوږدوالی او له ختیځ څخه لوېدیځ ته ۸۵ کیلومتره پلنوالی لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د بیروت ښار دی، نفوس یې څه کم اوو میلیونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۴۰۴ کسان ژوند کوي.

د لبنان ۹۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې لس سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي او د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

دغه هېواد د اداري وېش له پلوه پر پنځو ولایتونو وېشل شوی دی. طرابلس، بېلوس، سیدون، هرمیل، جونیه، صور او راشیا د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.

د لبنان اساسي قانون د ۱۹۲۶ ز کال د مې په ۲۳مه نافذ شوی او تر اوسه څو ځلې تعدیلات په کې راغلي دي. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر میشال نعیم عون او لومړی وزیر یې حسان دیاب دی. د دغه هېواد د اساسي قانون له مخې، د دغه هېواد ولسمشر د ولسي جرګې له خوا د شپږو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د لبنان لومړی وزیر او مرستیلان یې د ولسي جرګې په مشوره د ولسمشر له خوا او د کابینې وزیران د ولسمشر او ولسي جرګې په مشوره د لومړي وزیر له خوا ټاکل کیږي.

د لبنان د ولسي جرګې ۱۲۸ غړي د څلورو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کیږي.

په دغه هېواد کې د رایې ورکولو عمر ۲۱ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د دغه هېواد حقوقي نظام د عثماني قوانینو، د ناپلیون د قوانینو او د اوسني مدني قانون پر اساساتو ولاړ دی. دغه هېواد د تمییز څلور محکمې لري چې یوه د جنایي او درې د سوداګریزو او عامه حقوقي مسایلو لپاره کار کوي. لبنان د قانون جوړولو یوه شورا لري.

دغه هېواد د ۱۹۴۳ ز کال د نومبر په ۲۲مه له فرانسې څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

له ۱۹۷۵ تر ۱۹۹۱ ز کلونو پورې کورنۍ جګړې د لبنان ډېر اقتصادي بنسټونه ونړول، د دغه هېواد ملي تولید یې نیم په نیمه کم کړ او په منځني ختیځ کې یې د سوداګرۍ او بانکونو د مرکز په توګه د لبنان دریځ پای ته ورساوه. له سولې وروسته، د لبنان دولت د بیروت په ښار خپله ځارنه پیاوړې کړه او له خلکو یې د مالیاتو پر ټولولو پیل وکړ.

د لبنان دولت د یو پروګرام په درلودو سره ځان ته پراخ هدفونه وټاکل. په ۱۹۹۳ ز کال کې د لبنان دولت د اقتصاد د بیا احیا کولو لپاره د ۲۰ بلیون ډالریز پروګرام په چوکاټ کې غیر خالص کورني تولید ته په ۱۹۹۴ ز کال کې اته سلنه او په ۱۹۹۵ ز کال کې اووه سلنه وده ورکړه. په لبنان کې د اسراییلو د ۱۹۹۶ ز کال پوځي عملیاتو د پرمختګ دغه چټګ بهیر ته ډېر زیان ورساوه. د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۸ ز کلونو تر منځ په لبنان کې د کلني انفلاسیون اندازه له ۱۰۰ سلنه څخه پنځه سلنه ته ټیټه شوه. د بهرنیو اسعارو زېرمه له یو بلیون څخه شپږ بلیون ته زیاته شوه او د ملي پانګې نوي زیاتوالي د لبنان په بهرنیو تادیاتو کې زیاتوالی راوست.

په همدغو کلونو کې د لبنان د اقتصاد د فزیکي او مالي بنسټونو په بیا ودانولو کې ډېر پرمختګ وشو او د دوو بلیون ډالرو په مصرفولو سره د بیروت د سوداګرۍ لوی مارکېټ بیا پر پښو ودرول شو. د بیروت د اسعارو د تبادلې مرکز د ۱۹۹۶ ز کال په جنوري کې پرانیستل شو او ډېر بهرني بانکونه او د بیمې خارجي موسسې بیا لبنان ته راغلې. له دې ټولو سره سره، د لبنان دولت د خپل وران وطن د اقتصاد د پوره رغونې لپاره له ډېرو ستونزو سره مخ دی. د دغه هېواد دولت مجبور دی چې د بهرنیو اسعارو له زېرمو څخه د اقتصادي پرمختګ په ګټه کار واخلي او له بهر څخه د پورونو اغېزمن راتګ ته ښه لاره پرانیزي.

دغه هېواد د آزاد اقتصاد ښه عنعنه لري او هڅکله یې پر بهرنیو پانګونو باندې بندیزونه نه دي لګولي، خو دغه راز پانګونې ته ډېره لېوالتیا له دې ستونزو سره مخ ده: اداري فساد، د لایسنسونو په صادرولو کې ځنډ، لوړې لوړې مالیې، ګمرګي تعرفې او فیسونه، حقوقي ستونزې او د پوهنیزو مالکیتونو د خوندیتوب ساتنه.

د لبنان په اقتصادي جوړښت کې د خدماتو ونډه ډېره ده، بانکي خدمات او سیلانیان په دې خدماتو کې وتلې ځایونه لري.

ټوکران، د خوراکي توکو پروسس، کیمیاوي توکي، کاغذ، د کاني توکو پروسس، سیمنټ، برېښنایي سامانونه، پلاستیک، چرم، لرګي، موبل او فرنیچر، د تېلو چاڼ، دارو درمل، فلزي تولیدات او داسې نور د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د لبنان ۱۷ سلنه خاوره د کرنې وړ ده، د دغه هېواد پاتې خاوره څرځایونو، ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې سیمو نیولې ده. د دغه هېواد اته سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد پنځه سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

غنم، تنباکو، زیتون، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

لبنان له ۲۰ زیاتې غټې تجارتي بېړۍ او اووه هوایي ډګرونه لري چې پنځه یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کوډ ۰۰۹۶۱ او د انټرنېټ کوډ یې AB دی، چې ټولټال یې یو میلیون کسان ورته لاسرسی لري.

لبنان اووه ټلوېزیونونه لري چې یو یې دولتي دی. د دغه هېواد د راډیوګانو شمېر له ۳۰ زیات دی.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه دی. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي.

په لبنان کې زده کړه له ٦- ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

لبنان په یوازې توګه او کله کله له سورېې سره په ګډه ډېر لرغونی تاریخ لري. کنعانیان چې یونانیانو فینقیان بلل، له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله مخکې د لبنان اوسنۍ خاورې ته چې هغه وخت فینیشیا نومیده، وکوچېدل. فینقیانو د سمندرونو سوداګرۍ او ښارجوړولو په برخه کې لوی لاس درلود. د کارتاژ لرغونی ښار دوی جوړ کړی و، له میلاد څخه ۵۸۳ کاله مخکې مصریانو بیا فارسیانو، آثوریانو، بابلیانو او یونانیانو پر لبنان حکومت کړی دی. له میلاد څخه ٦۲ کاله مخکې لبنان د روم په ستراوکۍ پورې وتړل شو، په څلورمه م پېړۍ کې کله چې دروم ستراوکې وشنل شوه، لبنان د بیزانس یا د ختیځ روم له دولت څخه جلا شو. کله چې په اوومه پېړۍ کې اسلامي لښکرو د دې سیمو پر نیولو پیل وکړ، لبنان مسلمانانو ونیو او عیسوي ماروني ډلې د دغه هېواد په شمالي غرنیو برخو کې ځای ونیو. د ۱٦مې پېړۍ په لومړیو کلونو کې لبنان د عثماني ستراوکۍ پوځونو ونیو او عثمانیانو د دغه هېواد سیمه ییز مشرانو ته ډېر واک ورکړ.

د ۱۹مې پېړۍ په نیمایي کې د لبنان د دوو ډلو مارونیانو او فرانسې په ملاتړ او رزویانو د انګلستان په ملاتړ تر منځ کورنۍ جګړه ونښته. فرانسویانو په ۱۸٦۰ ز کال کې د مارونیانو په ننګه سورېې او لبنان ته پوځونه واستول او پرېکړه وشوه چې لبنان دې د هغه مسیحي مشر تر څارنې لاندې کورنۍ خپلواکي ولري، چې عثماني سلطان به یې ټاکي.

په ۱۹۲۰ ز کال کې فرانسویانو پر سوریه او لبنان باندې د عثمانیانو ۴۰۰ کلنه واکمنې پای ته ورسوله او پر دغو دواړو هېوادونو باندې د فرانسې قیمومیت ټینګ شو. فرانسویانو دا وخت د سورېې خاوره چې لبنان هم په کې حساب و، پر پنځو کوچنیو دولتونو ووېشله، د لبنان مسیحیانو د خپل نوي خپلواکه هېواد هرکلی وکړ او په دغه هېواد کې اساسي قانون ولسمشر او اداري تشکیلات منځ ته راغلل.

افغانستان په ۱۹۵۰ ز کال کې له لبنان سره نااستوګنې سیاسي اړیکې ټینګې کړې، په لومړي سر کې په بغداد کې افغان سفارت د لبنان لپاره هم کار کاوه، بیا دا دندې په قاهره کې افغان سفارت ته وسپارل شوې، اوس اوس په دمشق کې افغان سفارت دا دنده پر مخ بیایي.

له افغانستان څخه تر لبنان پورې د هوا له لارې فاصله ۲۹۳۴ کیلومتره او همدا راز د کابل او بیروت ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۲:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۵ |
| € | ۸۵,۲۰ |
| Rp. | ۴۸۷ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# غوره ملګري، غوره پانګه ده

ژباړه: حمیدالله حمیدي

کله چې اورم، چې ځینې درون ګرا (ځاني خودي) کسان هم شته چې هېڅ ملګری نه لري، له ځان سره وایم، دغه کسان پرته له ملګرو او دوستانو څه ډول ژوند کوي؟ زما په اند، دغه ډول به بیخي سترې کوونکی وي. ملګري او دوستان زما په ژوند کې زما د مهمو کسانو له ډلې څخه دي. دوی پر ما ډېر مثبت اغېز کړی دی او زه ډاډه یم چې ما هم پر دوی باندې اغېز کړی دی. خو یو څه باید واضح کړو، هغه دا چې کله د ملګرو نوم اخلو، هغه باید داسې کسان وي چې موږ ښې لارې ته رهنمایي کړي، ژوند کول ترې زده کړو او په ټوله کې ګټور ثابت شي. هغه کسان چې تاسو پر غلطه او ناوړه لار بیایي، هغوی ته بیا د ملګرو نوم نه شو ورکولای، هغوی ملګري نه؛ بلکې ستاسو د ژوند دښمنان دي. که غواړې په ژوند کې ګړندی پرمختګ وکړې، نو یوازې ښه یاست، خو که غواړې نوې تجربې تر لاسه کړې، نو د ځان لپاره داسې ملګري وټاکئ چې ستاسو هم فکره وي.

ملګری باید یوازې د ساعت تېرۍ، وخت تېرۍ او یا لوبو کولو لپاره نه وي، بلکې ملګري باید ستاسو د پرمختګ او بریا لامل شي. ملګري باید داسې کسان وي چې له هغو کارونو څخه چې تاسو یې په ژوند کې د پرمختګ لپاره کوی، له تاسو سره همکاري وکړي او ومو هڅوي. ملګري باید تاسو ته ګټه ورسوي او ګټور ثابت شي. که ستاسو په ژوند کې داسې کسان وي، چې ستاسو لپاره ګټور نه وي، د بریا او پرمختګ لامل مو نه کېږي او دغه راز تاسو هم د هغوی لپاره بې ګټې یاست، بیا نو ښه ده چې پوښتنه ترې وکړئ، ولې در سره ملګري شوي دي؟

ملګري فضایي بېړۍ ته ورته دي. فضایي بېړۍ ته چې څوک ننوځي، باید اعتباري او وړ کسان وي، که نه، بیا له ستونزو سره مخ کېږي. تاسو باید واقعي او وړ ملګري ولرئ. زه ډېر کله په خپلو ویناوو کې ځوانانو ته د ملګرو پیدا کولو په اړه خبرې کوم. زه هغوی ته وایم، هر څوک نه شي کولای ستاسو ملګري شي، که ستاسو او ملګرو تر منځ مو مثبتې اغېزې موجودې نه وي، مانا دا چې پر یو بل مثبت اغېز نه شی کولای او یو بل ته ګټور نه شی ثابتېدای، نو ښه ده چې دا ډول ملګرتیا ته د پای ټکی کېږدئ. داسې کسان هم شته چې هغوی له تاسو سره د نورو غیبت کوي، خو تاسو لا هم په دې اند یی چې دوی ستاسو ملګري دي. زه اوس ستاسو سترګې خلاصوم، «که مو ملګری تاسو ته د نورو ملګرو غیبت کوي، نو باید پوه شی چې ستاسو همدغه ملګری بله ورځ ستاسو غیبت خپل ملګري ته کوي».

لازمه ده کله چې تاسو د ځان لپاره ملګري پیدا کوی، نو له پوره دقت څخه کار واخلئ، موخه مو باید یوازې د ملګرو پیدا کول نه وي، بلکې د وړ او صالحو ملګرو پیدا کول وي. له خلکو سره اړیکې ټینګې کړئ، ژوند ته یې پاملرنه وکړئ او له بریا سره یې مرسته وکړئ. که غواړې خپل نظرونه له یو چا سره شریک کړی، نو ښه ده چې لومړی ور سره ملګري شی. په ملګرتیا کې یوازې د ځان په اړه فکر مه کوئ، بلکې د مقابل لوري په اړه هم فکر وکړئ. موسکا مو له نړۍ سره شریکه کړئ، ځکه دغه څه د سولې او ملګرتیا نښه بلل کېږي.

ټولنیز اوسئ، زه د ټولنیزو شبکو مینه‌وال یم، خو ژوند نه ترې قربانوم. زه د ټولنیزو شبکو له لارې، له خلکو سره په اړیکه کې کېږم، له هغوی سره اشنا کېږم، له هغوی سره ګورم او کله چې ور سره ملګری شم، ډېر شیان ترې زده کوم. میلیونونه کسان شته چې ستاسو د ستونزې حل ور سره دی او زده یې دی. هغوی پیدا کړئ، ور سره ملګري شئ او اړیکه ور سره ټینګه کړئ.

ملګری مو د شخصیت ښکارندویي کوي او پر تاسو باندې دومره اغېز لري، چې لویان وایي: « ملګري دې راته معرفي کړه، هغه وخت بیا زه پرېکړه کولای شم چې ته څنګه شخصیت لرې».

که له منفي بافه ملګرو سره په اړیکه کې اوسی، نو دغه منفي بافي ستاسو ژوند ته هم ریښې کوي او له تاسو هم یو منفي باف او منفي فکره کس جوړېږي. برعکس که مثبت فکره ملګري ولری، ژوند به مو له خوښیو او پرمختګونو څخه ډک وي. که رښتیا ووایم، زه د خپلو ملګرو په شتون خوښ یم. کله چې له ستونزې او یا کوم خپګان سره مخ کېږم، نو له خپلو ملګرو سره یې شریکوم، دوی ما ته لارښوونه کوي او د ستونزو په حل کې را سره مرسته کوي. ملګري مې وو چې زه یې لیکوالۍ ته وهڅولم، یو بل ملګری مې و، ما ته یې د وېب پاڼې جوړولو سپارښتنه وکړه او په دې برخه کې یې غوره مشورې راکړې، بل ملګری مې و، زه یې وهڅولم چې انلاین کتاب «د بریا لپاره اویا تګلارې» ولیکم. که تاسو دغه کتاب نه وي لوستی، زما سپارښتنه دا ده چې هرو مرو یې یو ځل ولولئ، زه ډاډه یم چې پښېمانه کېږی به نه. همدا ملګري مې وو چې زه یې په یو ډول نه، یو ډول وهڅولم او انګېزه یې راکړه. موږ چې هر وخت په خپل منځ کې ځینې مشورې کوو، یو څه شریکوو او یوې پایلې ته رسېږو، دومره د خوښۍ احساس کوو او خوشالېږو، چې پوښتنه یې مه کوه. زه نه پوهېږم که له ما سره دغه ښکلي ملګري نه وای، زه به اوس چېرته وم او په څه حالت کې به وم. ښه ملګري ګټور ثابتېږي. ما ته خو مې ملګري اوس داسې ښکاري لکه د کورنۍ غړي؛ ځکه ما له دوی څخه ډېر څه زده کړي دي، کېدای شي زما خیر هم ور رسېدلی وي، که نور نه وي په ملګرتیا مې افتخار کوي. زه ما دوه ملګري دي «ناوي او وایز» زه واقعاً د دوی پر ملګرتیا ویاړم او د خدای پاک شکر ادا کوم. دوی دواړه زما ډېره خواږه او نږدې ملګري دي. ملګري د ژوند یو نعمت دی او زه له دې نعمت څخه برخمن یم.

ملګري باید اجباري یا د ځان په بیه نه وي. که مو له یوه چا سره د ملګرتیا هڅه وکړه، خو هغوی نه غوښتل چې در سره ملګري شي، نو فشار مه پرې راوړئ او ځان په زور مه ور سره ملګري کوئ. په ډېره مهربانۍ له هغوی څخه ځان راټول کړئ او د یوه بل ملګري په لټه کې شئ. تاسو باید د دې لپاره ځان بدل نه کړئ او بدلون پکې رانه ولئ چې ګواکې د نورو د تایید وړ وګرځی او خوښ یې شي. زه داسې مېرمنې پېژنم، د دې لپاره چې د یوې ځانګړې ډلې پام ور واوړي او خوښې یې شي، په ظاهري او باطني ډول په ځان کې ډېر زیات بدلون راولي. دوی د ځان لپاره یو غیر واقعي شخصیت جوړوي. دا ضرور نه ده. ولې د دې لپاره چې د نورو خوښ شی، خپل شخصیت ته بدلون ورکړئ؟ تاسو باید هغه ډول اوسئ چې یاست، که څوک ستاسو د ملګرتیا وړ وي، ځان درته نږدې کوي. له داسې کسانو سره ملګري وکړئ، چې ستاسو مثبت اړخونه پیاوړي کوي، نه له هغوی سره چې یوازې په منفي اړخونو پسې مو یې را اخیستې وي او تخریبوي مو.

سیمون سیک وایي: «ملګري د برابرۍ معادله نه ده او نه هم دا ده چې یو څه راکړه او یو څه به درکړم، بلکې ملګرتیا او دوستي له احساساتو او عواطفو څخه سرچینه اخلي. داسې چې پوه شی، کله چې له ستونزو سره مخ کېږی، څوک به در سره مرسته کوي. پرته له دې چې په دې برخه کې زمان او مکان اهمیت ولري».

ملګري کېدای شي د ورور او خور په څېر وي، چې خدای پاک ستاسو له هغې کورنۍ چې وینه مو سره شریکه ده، بېرون پیدا کړي وي.

دوستي او ملګرتیا ډېره ارزښتناکه ده. داسې یو څه نه ده چې تر لاسه یې کړې او له یو څه وخت وروسته یې هېره کړې. ملګرتیا یانې باور، متقابل درک او مینه. په هېڅ ښوونځي او پوهنتون کې تاسو ته ملګرتیا نه تدریسېږي؛ خو له دې سره سره که تاسو د دوستۍ او ملګرتیا مفهوم درک نه کړی، په اصل کې مو هېڅ شی هم نه دي زده کړي.

جان وودن وایي: «له ځان سره رښتیني اوسئ، له نورو سره مرسته وکړئ، هره ورځ مو پر یوه شهکار بدله کړئ، ملګرتیا مو پر یوه تل پاتې هنر بدله کړئ، ښه کتابونه ولولئ، په ځانګړې توګه مذهبي او معنوي کتابونه، د خپلو سختو ورځو لپاره تکیه ګاه ولرئ، څه شی چې خدای پاک درکړي دي، شکر پرې وباسئ او هره ورځ له خدای پاک څخه د هدایت غوښتونکي اوسئ.» همدا نن د چکر لپاره بېرون ته ووځئ او په مخه درتلونکو کسانو ته موسکي شئ. د بېلابېلو فرهنګونو او ملتونو له خلکو سره ملګري شئ. خوښ ژوند وکړئ او له ملګرو سره هم په خوښۍ ژوند تېر کړئ، په خپل او د نورو په ژوند کې ګټور ثابت شئ. زه هم ستاسو ملګری یم.

که مو ملګري ته اړتیا درلوده، کولای شی پر ما هم حساب وکړئ. له ما سره په اړیکه کې اوسئ او پرېږدئ چې له یو بل سره په اړیکه کې اوسو او ملګرتیا جوړه کړو. راځئ د یو او بل په ژوند کې رول ولرو او له ځانه ښې خاطرې پرېږدو.




## شکایتونو کمېسیون: تر اوسه مو د استېناف غوښتنې ۴۷۰۰ قضیې ثبت کړې دي



د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي چې تر اوسه له دوی سره د استېناف غوښتنې ۴۷۰۰ قضیې ثبت شوې دي.

دغه کمېسیون زیاته کړې چې د استېناف غوښتنې ډېرې قضیې په غیر بایومټریک، توپیرې، شکمنو او له وخته مخکې رایو په اړه ثبت شوې دي.

د دغه کمېسیون منشي او ویاند محمد قاسم الیاسي پرون په کابل کې خبریالانو ته ویلي، د استېناف غوښتنې په مرحله کې تر اوسه له دوی سره له ۴۷۰۰ زیات اعتراضونه ثبت شوي چې ممکن کچه یې نوره هم لوړه شي.

هغه زیاته کړې: «د ۴۷۰۰ په شاوخوا کې د استېناف غوښتنې قضیې ثبت شوې، دا د بدلون په حال کې ده؛ ځکه چې یو ولایت ابلاغیه د پنجشنبې په ورځ ورکړې، احتمال شته چې په یاد ولایت کې د استېناف غوښتنه هم وشي، دغه قضیې د دریو ټاکنیزو ټیمونو ثبات او همپالنې، دولت جوړوونکي او سولې او اسلامي عدالت له لوري ثبت شوې دي».

الیاسي ویلي چې د استېناف غوښتنې ډېرې قضیې د ثبات او همپالنې ټیم له لوري ثبت شوې دي.

که څه هم د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له خوا د استېناف غوښتنې درې ورځنۍ مهلت د تېرې چهارشنبې په ورځ پیل شو او ورمه ورځ (شنبه) تمام شو، خو د دغه کمېسیون د مسوولینو د وینا پر بنسټ، چې ځینو ولایتونو ته ابلاغیې ناوخته رسېدلې او دا بهیر لا نه دی بشپړ شوی. شکایتونو کمېسیون ویلي چې د دغو قضیو د ډلبندۍ لړۍ پیل شوې، چې په دوو ورځو کې به بشپړه شي.

د دغه کمېسیون چارواکو دغه راز زیاته کړې چې ورمه ورځ یې د ۵۳۷۸ هغو محلونو چې د بیاشمېرنې پرېکړه یې شوې، معلومات د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته سپارلي دي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د ۱۹ ولایتونو معلومات له دوی سره شریک کړي، خو د دغه کمېسیون په خبره، ستونزې یې درلودې.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح سادات ویلي: «تېره (وړمه) ورځ ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون، د ټاکنو له کمېسیون سره د ۱۹ ولایتونو معلومات شریک کړي، په دغو معلوماتو کې ځینې ستونزې وې چې د اصلاح لپاره بېرته د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته استول شوي».

په ورته وخت کې که څه هم پر ټاکنو د څار بنسټونه د استېناف غوښتنې په مرحله کې د ټاکنیزو ټیمونو له خوا د ډېرو قضیو ثبت اندېښمن کړي، خو بیا هم ټینګار پر عدالت لري.

د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید ویلي: «زه هیله من نه یم چې د انتخاباتي شکایتونو مرکزي کمېسیون دې په کم وخت کې د دومره قضیو په اړه فیصله وکړي، دا زیات وخت ته اړتیا لري، چې د پایلو په اعلان کې ځنډ راولي».

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۰مه | ۴۹۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ٤ | ۸ | ۵ | ۱۵ | ۱۱ |
| -۳ | -۲ | ۲ | ۱ | ٦ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۲:۵۱ | ماښام ۰۵:۱۰ | ماخوستن ۰٦:۳۸

## شرکت‌های ساختمانی: حکومت در برابر شرکت‌های خصوصی و ادارۀ عملیاتی ریاست‌جمهوری برخورد دوگانه میکند



اتحادیۀ شرکت‌های ساختمانی، از آنچه‌که برخورد دوگانه در برابر شرکت‌های خصوصی و ادارۀ عملیاتی ریاست‌جمهوری، در روند داوطلبی قراردادها می گوید، سخت انتقاد می کند و این برخورد را ضربه‌یی بر بخش خصوصی می‌داند. مسؤلان این اتحادیه می گویند که ادارۀ عملیاتی ریاست‌جمهوری، با شیوۀ تدارکاتی «منبع واحد» و بسیار زود و آسان، پروژه‌ها را بدست می‌آورد؛ اما شرکت‌های خصوصی حتا تا بیش از یک سال باید منتظر بمانند که از نتیجۀ حضورشان در داوطلبی‌ها آگاه شوند. به گفتۀ مسؤلان این اتحادیه، رکود کار و بار آنان، در پنج سال حکومت وحدت ملی، باعث شده‌است که شمار شرکت‌های ساختمانی خصوصی از ۱۲۰۰ به ٦۰۰ کاهش یابد.

صبغت‌الله تمیم، معاون فنی اتحادیه شرکت‌های ساختمانی در این باره بیان داشت: «متأسفانه در برخی از حالات، آنان [ادارۀ عملیاتی ریاست‌جمهوری] یک پروژه را تمام می کند و بعد تبلیغ می کنند که با مصرف خیلی اندک و وقت کم این پروژه را انجام داده‌اند؛ در حالی که وضع ما و آنان فرق می کند. ما با یک پروسۀ خیلی طولانی تدارکاتی روبه‌رو استیم که در آن پول شرکت‌ها بند می‌شود، موضوع تضمین می‌باشد، اعتبار مالی می‌باشد که هیچ یک از این‌ها، فرا راه آنان [ادارۀ عملیاتی ریاست‌جمهوری] نمی‌باشد».

در عین حال عبدالنصیر لطیفی، رئیس یکی از شرکت‌های ساختمانی در کابل است. او می گوید، پس از در حدود بیست سال کار در بخش ساختمانی، به مشکلاتی برخورده است مشکلاتی که به گفتۀ او، رفته رفته شرکتش را به ورشکستی روبه‌رو ساخته‌است.

# نړۍ




## راپورونه: حوثي یاغیانو د یمن د پوځ لسګونه سرتېري وژلي دي




د راپورونو له مخې، د یمن د حوثي یاغیانو په یوه برید کې د دغه هېواد لسګونه دولتي سرتېري وژل شوي دي.

د سعودي عربستان د دولتي ټلوېزیون د راپور له مخې، په دغو توغندیزو بریدونو کې چې په مارب ښار کې د عبدربو منصور هادي د حکومتي ځواکونو پر یوه اډه شوي، ٦۰ تنه وژل شوي.

په ورته وخت کې اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس بیا ویلي، چې لږ تر لږه ۲۵ تنه وژل شوي، خو یمني چارواکو ویلي چې د وژل شویو کسانو شمېر تر دې ډېر دی.

دغه راز د جرمني ډي پي اې خبري اژانس ویلي چې لږ تر لږه ۴۰ یمني سرتېري وژل شوي او ۵۰ نور ژوبل دي.

خو رویټرز د سعودي عربستان د الاخباریه دولتي ټلوېزیون په قول ویلي چې د مارب ښار په اډه کې ٦۰ تنه وژل شوي. الاخباریه د ځینو سرچینو له خولې دا هم ویلي چې دغه بریدونه د بالسټیک توغندیو او بې پېلوټه الوتکو په وسیله شوي دي.

د یادونې ده چې د یمن په کورنۍ جګړه کې لسګونو زرو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې او د شمېرو له مخې، په میلیونونو نور کسان پکې له سختې لوږې او قحطۍ سره مخ دي.

## قریشي: امریکا دې له خړ لېسته د پاکستان د نوم په ایستلو کې مرسته وکړي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي له امریکا څخه غوښتي چې د غیر قانوني پیسو د لېږلو د مخنیوي نړیوالې ادارې(ایف اې ټي ایف) له خړ نوملړ څخه د پاکستان د ایستلو په برخه کې دې ورسره مرسته وکړي.

پاکستانۍ ډان ورځپاڼې د قریشي له خولې ویلي، چې نوموړي له امریکايي چارواکو غوښتي څو په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي. قریشي دغه راز زیاته کړې، دوی د ترهګرۍ له منځه وړلو په برخه کې اړین اقدامات تر سره کړي او اوس د امریکا وار دی چې په اړوندو برخو کې ورسره همکاري وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې دغه بنسټ تېر کال پاکستان ته خبرداری ورکړی و چې که له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې اړین ګامونه اوچت نه کړي، نو تور لېست ته به یې واچوي. د یادونې ده چې د غیر قانوني پیسو د لېږد د مخنیوي نړیوالې ادارې یا (اېف اې ټي اېف) راتلونکې غونډه د روان کال په لړ کې تر سره کېږي، چې پکې به د پاکستان په اړه وروستۍ پرېکړه کېږي. بلخوا امریکايي چارواکو تر اوسه د قریشي دغو څرګندونو ته غبرګون نه دی ښودلی.

# ژوند


## د ژوند کوچني رازونه او لویې بریاوې




د هغه څه لپاره چې د اخیستو توان یې نه لرې او یا ورته کافي پانګه نه لرې، د بل قرض او دین ته غاړه مه ږده. د ژوند له کوچنیو خوښیو لکه، پلې تګ، له دوستانو سره ناسته ولاړه او په طبیعت کې له یوې ښې ورځې تېرولو خوند واخله. دا سمه ده چې د پیسو سپما هم ګټوره ده، خو د دې پر ځای چې پیسې سپما کړې او ورځ تر بلې یې ارزښت را کم شي، ښه به دا وي چې پیسې مو پر کار واچوئ او پانګونه پرې وکړئ، ځمکه واخلئ او یا له چا سره ګډ کار پرې وکړئ. د دې لپاره چې په ژوند کې خوښ و اوسې؛ هڅه وکړئ چې د زده کړې په لټه کې اوسئ. هره ورځ باید یو نوی شی زده کړئ.

که وایې چې ماشومان او یا هم د کور کارونه پر غاړه لرم، دا نو بیا هسې بهانې دي. ته باید په ډېر دقت او خلاص ذهن سره فکر وکړې، په نویو نظرونو پسې وګرځې، په دې کار سره به د وخت په تېرېدو سره درته معلومه شي، چې ته څومره یو عامه فهمه او ځېرک کس شوی یې.

## سلیم عقل په سالم بدن کې دی



وایي چې ((سلیم عقل په سالم بدن کې وي.)) د ایدنبورګ پوهنتون څېړونکي هم په همدې نظر دي، خو یوازې همدا خبره مخکې وروسته کوي. ((روغه ستڼه د سالم عقل پایله ده.)) که ستاسې ذهني ځواک زیات وي، نو تاسې به ډېر صحتمند وی، نسبت هغوی ته چې ذهني ځواک یې کمزوری وي. د ایدنبورګ پوهنتون پوهانو په خپله تازه څېړنه کې موندلې چې هغه بیالوژیکي صفت چې د هوښیارتوب او ذکاوت لامل کېږي، له ناروغیو څخه هم انسان خوندي ساتي. څېړنه زیاتوي، هغه خلک چې ښه یادابنت لري، منطقي فکر لري او هوښیار دي، د وینې د فشار، شکرې او پر ځینو نورو ناروغیو یې د اخته کیدو احتمال کم دی. څېړنې د هغې تیورۍ هم ملاتړ کړی چې وایي، ښه صحت د هوښیارتیا لامل کیږي. څېړنه وایي چې کم عقل خلک ژر ناروغه کیږي. تر روغتیا پرته هوښیار کسان لږ له ستونزو سره مخ کېږي، په داسې حال کې چې کم عقله خلک بیا د ځان لپاره ستونزې په پیسو اخلي، مانا دا چې په خپل لاس د ځان لپاره ستونزې زېږوي. له ستونزو څخه خلاصون خو بیا تاسو ته معلومه ده چې ډېر جنجال غواړي. د ستونزو حلول بیا خپله د انسان پر روغتیا بده اغېزه کوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af

خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بدایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانې او سفارتونه پرانېستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیايي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړینې دي.
• د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمېرې اړیکه ونیسئ.
www.azizibank.af 1515